# ژبــــه

ژبه د ژوندیو موجوداتو تر منځ خبر (اطلاع) ور کول ده. د شاتو موچۍ د شاتو د منبع پر سر د ګرځېدو په واسطه نورو موچیو ته خبر ور کوي چي شات دلته دي. میږیان دخپلو دوو انتنونو او د بوی د ژبي په واسطه نورو ته خبر ورکوي ،ښځینه بوراګاني په هوا کښي د نرینه بوراګانو توجه ځانته ته د یو ډول بوی په واسطه را جلبوي. مرغان د خپلو سندرو (ربز) په واسطه د ډلي نورو مرغانو ته د یوه نوي ځای د نیولو خبر ور
کوي. حیوانات هم د انسانانو په شان د خطر، بیري (ویري) او تېښتي خبر نورو ملګرو ته د اواز او یا کوم بل سلوک د ښکاره کولو له لاري ور کوي. د انسانانو د خبرو ژبه انسان ته دغه امکان ور بخښي چي د یو شمېر محدودواو ساده ږغونو له لاري یو زیات شمېر غیر محدود نوي او مغلق اطلاعات جوړ کړي. ټولي انساني ژبي یو شمېر محدودو ژبني ږغونه (*fonem*) لري، کوم چي د هري ژبي د الفبي د تورو څخه عبارت دي. فونیمونه په خپله مانا نه لري، مګر که یو یا څو فونیمه سره یو ځای کړو نو مانا لرونکي واحدونه (*morfem*) او یا په بل عبارت ساده کلمي څني جوړیږي. که یو شمېر دغه کلمي د معینو ګرامري قاعدو له مخي سره یو ځای سي نو بیا جملي ور څخه جوړیږي، چي جملي نو بیا د انسانانو د ژبي هغه واقعي اطلاعات دي.

Ketabton.com

د ژبو تر منځ د فونیمونه ځای پر ځای کېدل یو د بله توپیر لري. ټولي ژبي اواز لرونکي توري (*vokaler*) او بې اوازه توري (*konsonanter*) لري.

په نړۍ کښي د ۵۰۰۰ په شا و خوا کي مختلفي ژبي وجود لري چي یو د بله څخه توپیر لري. د مثال په توګه پښتو او دري دوې مختلفي ژبي دي او په افغانستان کي له ډېره وخته سره ملګري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغون پوهانو یو شمېر لیکنې پیدا کړي دي چې د پښتو او دري ژبو په هکله يې معلومات ور کړئ دئ. د بغلان د کتیبې (لیکني) څخه (۱٦۰ م) ښکاره کیږي چې په تخارستان کي د کوشانیانو د وخت ژبه یو ډول زړه دري وه، چي د اوازونو، کلمو او ګرامر له مخي يې د پښتو سره زیات ګډون درلود چي هغه ژبه موږ کولای سو دري و بولو، دا چي د دوهمي هجري پېړۍ څخه د پښتو ژبي پخواني اثار هم موجود دي نو کولای سو چي و وایو پښتو او دري دوې سره ملګري او نیژدې ژبي دي.

په نړۍ کښې ډیري ژبي موجودي دي چي یو دبله لږ یا ډېر توپیر لري. همدا ډول په هره ژبه کي بیا مختلفي لهجي (*dialekter*) وجود لري. د لهجو دغه اختلاف په ځینو ژبو کي لږ او په ځینو ژبو کي ډېر وي. د مثال په توګه په سویډني ژبه کي د جنوبي منطقې لهجه (*Skånska*) د ستوکهولم او یا نورو منطقو د لهجو سره فرق لري. په پښتو ژبه کي هم مختلفي لهجې سته چي هغه یو د بله څخه ډېر زیات توپیر لري.

پښتو د هغو پنځوسو معتبرو ژبو په کتار کي راځي کوم چي بډای ادبیات لري. پښتو د افغانستان ملي ژبه ده. په افغانستان کي نژدې ۱۲ ملیونه وګړي خبري په کوي (د ۱۳۵۳ کال د احصایې له مخي).
او په پښتونستان کي نژدې اوه ملیونه وګړي خبري پرې کوي. سربېره پر دې دوو سیمو یو شمېر پښتانه په پاکستان، هند، کشمیر، یو لږ شمېر د چین په (سین کیان) او له پنځو سوو زرو نه زیات پښتانه د ایران په خاوره کي ژوند کوي. د چین د پښتنو د موجوده ژبي په باب معلومات نشته.

د پښتو څېړني او زده کړي ته د وروستیو درو پېړیو په جریان کي د لوېدیځو څېړونکو زیاته پاملرنه اوښتې ده. په بریتانیا، روسیه، فرانسه، جرمني او نورو هیوادو کښې ډېرو پوهانو پښتو زده کړې او څېړلې ده. ډېرو لوېدیزو پوهانو ډول ډول پښتو کتابونه لیکلي دي.

د ۱۹۳۹ کال نه وروسته د مسکو د ختیځ پېژندني په انستیتوت او یو شمېر نورو لوړو پوهنځیو کي د پښتو تدریس په منظم ډول شروع شو چي د تدریس انتظام او د موادو برابرول يې د استاد اسلانوف د زیار او زحمت محصول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتو او هندي ژبې

پدې کې شک نشته چې پښتو د لوېدیزو اریایي ژبو په کورنۍ پوري اړه لري او په هغو کي د باختري ژبو په جمله کي یوه ژوندۍ ژبه ده. خو بیا هم د نورو باختري ژبو په نسبت د هندي ژبو سره خصوصا په لغوي پانګه کي د پاملرني وړ ګډون لري.

د دې یو علت د هندي ژبو سره د پښتو د زرګونو کلو ګاونډېتوب او د ګډو پولو لرل دي. دوهم علت یې پر هند باندي د پښتنو د څو پېړیو حکومتونه دي چې د هغه په اثر پښتو ډېر څه هندي ژبو ته ورکړي او ډېر څه یې ور نه اخیستي دي. د دې کار په نتیجه کي هندي ژبې د پښتو څخه او پښتو د هندي ژبو څخه متاثري ښکاري. د پښتو اوهندي
ژبو تر منځ بل ګډ خصوصیت د (ټ، ډ ، ړ او ڼ) د ږغونو موجودیت دئ. څېړونکي عقیده لري چې آریایي ژبو دغه ږغونه نه لرل، پښتو مستقیما په خپله یا د هندي ژبو له لاري دغه ږغونه له دراویدي ژبو څخه اخیستي دي. ځکه هندي ژبو هم دغه ږغونه په خپل اصل کي نه درلودل او هغه یې د مغلوبو او شړل شوو دراویدي ژبو څخه اخیستي دي. له دغه ځایه وو چې یو شمېر محقیقینو عقیده درلوده چې پښتو د هندي ژبو له کورنۍ څخه ده.

په ۱۸۲۸ کال کي د لومړي ځل د پاره (کلاپروت) او له هغه څخه وروسته یو شمېر نورو دغه نظریه منځ ته راوړه چې پښتو یوه آریایي ژبه ده، نه ینډو آریایي ژبه.

## پښتو د پراختیا په پوړیو کښي

پښتونخوا ته د عربو د نفوذ نه وروسته د عربي او عربي ادبیاتو له خوا ورو ورو د پښتو ادبیاتو ساحه ور تنګه شوه. د پښتو ادبیات یوازي د فولکلور په ډول د عامو پښتنو په سیمو کښي ساتل کېدل چې د یوه څخه بل ته په شفاهي ډول نقل کېدل. پدې ډول پښتو د پردیو ژبو د یرغلو څخه خوندي وه. د دغه وخت د خوږو اشعارو څخه زموږ په لاس کښي یوازي د امیر کروړ یو حماسي شعر (د دوهمي پېړۍ پیل) او ځیني نور، ډېر لږ اثار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سوريانو او غوريانو په وخت کښي د السرواني ، اسعد سوري ، ښکارندوی ، تايمني او د پښتو د نورو پياوړو شاعرانو د روزني او پالني زانګو د شاهانو دربارونه وه . پدغه دربارونو کي پرته له پښتو نه په بله ژبه خلک نه پوهېدل . د دوی ژبه سوچه پښتو وه او د دوی د منطقې ژبه د فارسي او عربي ژبو د نفوذ څخه ساتل شوې وه .

پښتنو شاهانو په هند کښي نه يوازي د هند ابادی او مدنيت ته خدمت کړئ بلکي په خپلو دربارونو کښي يې پښتو هم پاللې ده .

هجري لسمه او يوولسمه پېړی د پښتو د روزني او د پښتو ادبياتو د پرمختګ طلايي پېړی ګڼل کيږي . پدغه وخت کښي موږ د پښتو له پاره دوه چاپېريالونه ټاکلای شو :

## ۱ـ رسمي چاپېريال :

چي د ستر مشر ميرويس نيکه له وخته د پښتنو سياسي او ادبي مرکز کندهار او بيا کابل ګرځي .

## ۲ـ اولسي يا غير رسمي چاپېريال :

چي د روښانيانو د تحريک سره سم شروع کيږي .

## دلته به پر لومړي چاپېريال لږ څه رڼا واچول شي :

## پښتو د حاجي ميرويس خان په دوره کښي :

د ميرويس نيکه درنې کورنی نه يوازي د پښتو پالنه کړې ، بلکي د پښتو ژبي ښه شاعران هم وه . د ده په دوره کي د پښتو ښه شاعران و روزل شوه لکه سيدال خان ناصري ، ملا پير محمد ، بابو جان بابي ، داود هوتک ، ملا نور محمد غلجي او نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پښتو د شاه حسين په زمانه کښې:

بيا د ده د زوی شاه حسين په زمانه کښې چی د پښتو د خدمت په باب د تاريخ يوه ځلانده دوره ده. د ده دربار د پښتو ژبې د ادب ښه زانګو ګڼل کيږي. د ده په امر د پښتو ژبې د شاعرانو تذکره (پټه خزانه) و ليکل شوه چي د پښتو د ادب تاريخ يې ۱۳ سوه کاله مخکښې زمانو ته و رساوه.

## پښتو د احمد شاه بابا په زمانه کښې:

پښتو ژبه په ادبي لحاظ د احمد شاه بابا ( چي د پښتو ژبې شاعر هم وو ) او د ده د اولادې، تيمورشاه او شاه زمان په وختو کې پالل شوې، مګر په حقيقت کښې د تيمور شاه له خوا له کندهاره د سياسي مرکزيت لېږدول و کابل ته د پښتو د پرمختګ له پاره لويه صدمه وه چي جبيره کول يې ګران شول.

## پښتو د امير دوست محمد خان په زمانه کښې:

د امير دوست محمد خان په کورنۍ کې د پښتو ژبې کلکه مينه پرته وه، د همدې مينې په اثر د ده ورونه سردار مهردل خان او سردار پردل خان د پښتو ژبې خوږ ژبې شاعران وه.

## پښتو د امير شير علي خان په زمانه کښې:

د اعليحضرت امير شيرعلي خان په وخت کښې پښتو ژبې ته په رسمي ډول خدمت شروع شو. ټول عسکري، ملکي او د کابينې د غړيو القاب يې په پښتو واړول. د هغه وخت ځيني عسکري قوماندې چي په پښتو شوي وې لا تر اوسه ژوندئ دي لکه (تيار سئ، ولاړ سئ، دربږ) او نور.

## پښتو د امير عبدالرحمن خان په زمانه کښې:

اعليحضرت امير عبدالرحمن خان د پښتو سره بې مينې نه وو. د ده په امر د عبدالقادر خټک اثر (يوسف او زليخا) په سلطنتي مطبعه کښې چاپ شو.

## پښتو د امير حبيب الله خان په زمانه کښې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعليحضرت حبيب الله خان په وخت کښي د پښتو په باب يو لوی ګام واخيستل شو او هغه دا چي پښتو ژبي د معارف په تعليمي نصاب کښي ځای و نيوئ او د ښوونځي په درسي پروګرام کي رسمي داخله شوه . مولوي صالح محمد لومړی درسي کتاب و ليکئ چي بيا په لاهور کښي هم چاپ شو . په سراج الاخبار کښي د پښتو مضمونونو چاپول شروع شوه .

## پښتو د پاچا امان الله خان په زمانه کي :

د اعليحضرت امان الله خان پښتو ته خاصه توجه وه . دوی د پښتو د زده کړي او تعميم په غرض ( پښتو مرکه ) نومي ټولنه جوړه کړه ، چي د هيواد د ټولو قومونو فاضلانو او عالمانو ګډون پکښي کړئ وو . پدغه وخت کي د پښتو د پاره ګرامري قواعد وليکل شوه ، لغوي پانګه او د اصطلاحاتو ذخيره يې را ټوله کړه شوه ، نوي نومونه او اصطلاحات هم جوړ شوه . د پښتو کتابونه ( يوازنی پښتو ) ، ( پښتو پښويه ) وليکل او چاپ شول . طلوع افغان ورځپاڼي چي په دري ژبه يې مضمونونو خپرېدل په پښتو ژبه هم د مضمونونو په خپرولو پيل و کړ چي ورو ورو ټوله پښتو شوه .

## پښتو د اعليحضرت نادر خان پښ زمانه کښي :

د اعليحضرت نادر شاه په وخت کي پښتو مرکه په ( پښتو انجمن ) واوښته او بيا مرکز ته را نقل او د ( کابل ادبي انجمن ) په ګډون په ( پښتو ټولنه ) واوښت . پدغه وخت کي د پښتو د پراختيا د پاره کار پيل شو .

## پښتو د اعليحضرت محمد ظاهر خان په زمانه کښي :

د اعليحضرت محمد ظاهر خان په زمانه کي کله چي سردار محمد داود صدراعظم سو نو پښتو ژبي ته زياته توجه وکړه . هغه دا چي د دولت ټول کار کوونکو ته يې په اجباري ډول د پښتو ژبي د زده کړي امکانات برابر کړه که څه هم ژبه به پښتو وه او د ژبي د کورسونو تر لوستلو وروسته په ازموينه کي تر بريالي کېدو وروسته يې مياشتنۍ معاش د پنځوسو افغانيو په اندازه ور زياتاوه .

## ۲ ـ اولسي يا غير رسمي چاپېريال :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اولسي چاپېريال کښې د پښتو د پالني او ادب د پرمختګ شروع د روښانيانو په ديني رنګ کښې د ملي او سياسي حرکت سره يو ځای شروع کيږي.

## پښتو د روښانيانو په دوره کښې:

د پښتو ژبي په لمن کښې د پير روښان تاليف (خيرالبيان) لومړی بشپړ کتاب دئ چي په ۹۷۰ هجري کال کښې ليکل شوئ دئ او بيا يې ۱۰۶۰ هجري کال کښې نقل شوئ دئ. تر دې کتاب دمخه پرته د شيخ ملي له کتابه چي هغه هم ورک دئ او د (سليمان ماکو) د تذکره الاوليا چي يوازې يو څو پاڼې يې موندل شوي دي، د کوم بل کتاب څرک نه لرو.

## پښتو د خوشال خان په زمانه کښې:

د پښتو د ادب روښانه دوره د خوشال خان خټک د منځ ته راتلو سره سمه شروع شوه. د خوشال خان د قلم په زور پښتو نه يوازې د ننني ادبي ژبو سياله شوه بلکې د پښتنو د مليت د ژوندي کولو ساه يې بايد و بولو. خوشال خان د لومړي ځل د پاره په پښتو کښې ادب، سياست (دستار نامه)، طب (طبنامه) او نور علوم ځای کړل چي دا کار نه مخکې چا کړئ او نه وروسته. د ده دغه کار د ده د کورنۍ د نورو غړو له خوا بشپړ شو.

د خوشال خان په وخت کښې او له هغه وروسته په پښتو کښې غښتلي او نازک خياله شاعران منځ ته راغلل لکه رحمان بابا، حميد ماشو خېل، حسين، مصري خان او نور چي د نولسمي پېړۍ تر پيل پوري يې دوام وکړ او په پښتو کښې يې اخلاق، تصوف او بشردوستي ځای کړل.

د نولسمي پېړۍ په پيل کښې خارجي استعمار چيانو، لومړی سيکانو او بيا انګرېزانو د دوراني دولت د مشرانو د اولادې له اختلافه استفاده وکړه او د پښتنو خاوره يې پر دوو بلکې پر درو برخو و وېشله چي تر اوسه پوري لا پر هغه حال پاته ده. د استعمار په مقابل کښې د ليري پښتونخوا پښتنو په يوه لاس کښې توره او په بل لاس کښې قلم واخيستل چي په دواړو مبارزه ترننه روانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پښتو لیک دود تاریخچه:

د پښتو د ننني الفبې توري د عربي ژبې په اساس جوړ شوي دي چي سبب يې د اسلام د راتګ سره سم د عربي ژبې نفوذ دئ.

تر اسلام د مخه د اوسني افغانستان او هغه ته په ورځېرمه سيمو کښې دوه ډوله الفبې عموميت درلود:

### الف: خروشتي الفبې

### ب: يوناني (آرامی الفبې د پښتو د پاره دومره اهميت نه لري).

د معاصر افغانستان او هغه ته په ور څېرمه (خصوصاً لوېديځو) بيلو بيلو سيمو کښې د موندل شوو کتيبو (ليکنو) او سکو له مخي څخه د تاريخ پوهان وايي چي د دغو سيمو د بيلو بيلو ژبو له پاره خروشتي الفبې رواج وه. خروشتي د يو ډول لرغوني الفبې نوم دئ نه د يوې ژبې. دلته لاندي د خروشتي الفبې نمونه و ګورئ:


پر سکو باندي د خروشتي الفبې نمونې:



د خروشتي الفبې نمونه:



(c) ketabton.com: The Digital Library



خروشتي الفبې د حیوان پر
پوستکي باندي:

د خروشتي الفبې په هکله انګرېزی څېړونکئ (سر ویلیام جونز) وایي چي خروشتي لیک ژبه د آریانا ژبه وه او که چیري په پښتو کښي پوره څېړني وشي نو ښایي چي یو وخت د دغي ژبي (پښتو) په مرسته ډېري خروشتي کتیبې (لیکني) و لوستلي شي. د کتیبو له تاریخي څېړني څخه ځرګندیږي چي خروشتي الفبې له دریمي تر میلاد د مخه پیړۍ څخه بیا تر پنځمي میلادي پیړۍ پوري په دغو سیمو کښي موجوده وه.

ـ د خروشتي الفبې رواج د کنیشکا او د هغه د وروسته راتلونکوکسانو له خوا په کراره کراره دمنځه ولاړ او ځای یې یوناني الفبې و نیوئ.

ـ د مقدوني سکندر له راتګ نه وروسته د یونانیانو د نفوذ د ټینګېدلو په اثر یوناني الفبې ورو ورو عمومیت و موند. د یو لړ کتیبو او سیکو څخه داسي معلومیږي چي یوناني الفبې پدې سیمه کښي د میلادي اوومي پېړۍ تر لومړۍ نیمایي پوري عامه وه.

ـ کله چي اسلام افغانستان ته راغئ نو په لومړیو وختو کښي د یوناني الفبې په اساس د پښتو د خاصو تورو جوړول د عربي الفبې په اساس د مثال په توګه د (ځ) له پاره د عربي الفبې په اساس د (ځ) توری په همدغه شکل جوړ شوئ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د پښتو اوسنی لیک د عربي الفبې په اساس جوړ شوئ دئ. د عربي الفبې په چوکاټ کښي د پښتو د خاصو ږغونو د پاره توري غالباً ډېر پخوا جوړ شوي دي ځکه چي پښتو ژبه وه او لیک به یې هم وو. پدې هکله ځیني داسي روایتونه شته چي دا توري په څلرمه هجري پېړۍ کښي جوړ شوي دي.

ـ قاضي خیرالله پدې هکله په خپل کتاب خیراللغات کښي داسي لیکلي دي چي: " د سلطان محمود په زمانه کښي د ده د یوه وزیر حسن میمندي (گومان کیږي چي دا کلمه میوندي ده چي نسبت یې میوند ته کیږي) په خاصه اشاره قاضي صیف الله د پښتو د خاصو غږونو لپاره توري جوړ کړل چي هغه (څ، ځ، ډ، ړ، ڼ، ږ، ښ، ګ) دي او دغه ترتیب خاص رواج و موند".

ـ قاضي خیر الله د (ټ) په هکله لیکي چي پښتنو سوداګرو بیا وروسته په سیند او پنجاب کښي د مروجي (ت) پر سر باندي د (ط) د توري په لیکلو سره د (ټ) توری واړاوه.

د پښتو د خاصو تورو د منځ ته راتلو په هکله ډېر روایتونه شته. څوک وایي چي دا توري ډېر پخوا جوړ شوي دي، خو د هغو د جوړولو نسبت کله پیر روښان ته، کله اخوند درویزه ته او کله خوشال خان ته کیږي. ښایي د دې علت به دا وو چي دوی ته به پخوانی لیک نه وو رسېدلئ یا به یې په هغه قناعت نه درلود. ځکه نو د دوی په اثارو کښي دغه لیک دود یا بیخي اوښتئ او یا لږ څه بدلونونه پکښي معلومیږي. د عربي الفبې په اساس د پښتو لومړی اثر د سلیمان ماکو تذکره الاولیا دئ چي په (٦١٢ هـ ق) کښي یې د کندهار په ارغستان کي لیکلئ دئ او یوازي اته مخه ورنه پاتي دي. د دغه تذکرې لیک دود د اوسني لیک دود سره ډېر توپیر نه لري. یوازي (ځ) داسي لیکل شوې ده چي تر (ج) لاندي یې یو ټکئ لیکلئ دئ او د (ی) د ډولونو تر منځ ورکښي توپیر نه لیدل کیږي.

له دې ځایه څرګندیږي چي دغه تذکره د پښتو په یوه بشپړ او پر مخ تللي لیک دود لیکل شوې وه او امکان لري د قاضي صیف الله لیک دود به یې لیکونکي ته رسېدلئ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ داسي شواهد هم موجود دي چي د پښتو د خاصو تورو جوړول پير روښان ته منسوبوي. د پير روښان كتاب (خيرالبيان) د پښتو لومړی بشپړ كتاب دئ چي په (۹۷۰ هـ ق) كښي يې ليكلئ دئ او په (۱۰۶۱ هـ ق) كي د دوهم ځل د پاره د ده تر مرګ ۱۳۰ كاله وروسته د بهارتوی په قلم ليكل شوئ دئ.

د دې كتاب له ليكني نه څرګنديږي چي د پښتو خاص توري د پير روښان له خوا جوړ شوي او يا يې پوره انكشاف وركړئ دئ.

په دې كتاب كښي د (ځ، ړ، ژ) توري د اوسنيو تورو سره سمون نه لري. د (ځ) توری يې تر (د) لاندي يو ټكئ، (ړ) يې د (د) په مينځ كښي ټكئ او (ژ) يې د اوسنۍ (ړ) په بڼه ليكلي دي.

ـ د پښتو ټولني په كتابخانه كښي د خوشال خان د اشعارو قلمي نسخې موجودي دي. په دغو كتابونو كښي هم د پښتو د خاصو تورو د پاره څه قاعدې موجودي دي. د خوشال خان په ليک دود كښي چي كوم نوئ شی ليدل كيږي هغه د ثقيلي (ۍ، ئ) موجوديت دئ چي كله يې (ئ) او كله يې (هـ+ ي) ليكلې ده.

ـ د سليمان ماكو په تذكره الاوليا كښي د (ځ) تورئ د (ج) په شان ليكل كېدئ چي يو ټكئ به يې تر لاندي ليكلئ وو او د امير عبدالحمن خان په وخت كښي (ځ) د (څ) په شان ليكل كېده چي دغه (څ) د دواړو ږغونو د پاره په كار وړل كيدله.

ـ د امير حبيب الله خان په وخت كښي چي د پښتو تدريس د حبيبيې ښونځي په تعليمي نصاب كښي داخله شو د مولوي صالح محمد له خوا ورته د پښتو لومړی كتاب و ليكل شو، په هغه كتاب كښي يې د (ځ) د پاره داسي توری جوړ كړ چي د (ج، خ) په شان يې يو ټكئ پاس او يو ټكئ لاندي ليكئ.

لنډه يي دا چي د پښتو خاصو تورو ډيري لوړې او ژوري ليدلي دي. خو د پښتو ژبې دغه اوسني خاص توري، كله چي د پښتو ادبي مجلس (پښتو ټولنه) په (۱۳۱۱) هجري شمسي كال كښي منځ ته راغئ، ثقيله (ۍ) يې په (ئ) ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تانيث (ښځينه) اسمونو (ی) بيا وروسته منځ ته راغله او د (ځ) د پاره يې هم دغه شکل و مانه. د پښتو ادبي انجمن د پښتو د اوسني او بشپړ ليک دود بنسټ کښېښود چې بيا وروسته د پښتو ټولني د غوښتني په اساس د (۱۳۲۱ هـ، ش) کال په لومړۍ فيصله کښي يوازي د افغانستان د ليکوالو له خوا او بيا د (۱۳۳۷ هـ، ش) کال په دوهمه فيصله کښي تر لږو ترميمونو وروسته د ټولي پښتونخوا د ليکوالانو له خوا و منل شو.

# د ژبي اهميت

په هر دم په هر زمان په کار ده ژبه
د همه واړه جهان په کار ده ژبه

نا اشنا اشنا کوي سره خبري
په خبرو نژدې کيږي خلک ليري

د تورزن په کار نه وي هومره توره
لکه ژبه چي هر ځای کښي وي منظوره

که کاتب دئ که کاغذ دئ که قلم
ټول د ژبي خدمتګار دي دم په دم

په مرغانو کي توتي دئ عزت‌مند
دا په دا چي ښې خبري کړي د خوند

مګر دوه شرطه په ژبه کښي په ضرور دي
دغه دواړه ضروري په ښه دستور دي

اول دا چي ښې صحيح کوي خبري
چي خبري شي په مثل مرغلري

بل په بدو دي خوله نه خوځوي خپله
تل دي سم په اندازه وي لکه تله

بده ژبه د سري په ځان بلا شي
خوږه ژبه د سړي چاپېر قلا شي

هر سړی د سړي توب دعوې چي کاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان دي پوه کاندي په ډېرو ژبو باندي
په يوه ژبه مطلب نه پوره کيږي
که هوښيار وي هم له سره نه پوهيږي
که حاکم وي غور هيڅ نه شي کولی
که عالم وي طالب نه شي پوهولی
په سفر کښي لکه نقش د دېوال
ګنګ ولاړوي بې طاقته بې مجال
خوصوصا چي پښتو ژبي ته حاجت
پېښ شي ډېر زياتي له حده دا ساعت
(احمد) وکړ په دا شان اسان کلام
چي پوهيږي پرې کل واړه خاص و عام

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**